# Higher Education Weekly

لوړو زده کړو وزارت – وزارت تحصیلات عالی – Ministry of Higher Education

شماره یکصدو نودو دوم - سال نهم- جوزا ۱۴۰۱ هـ.ش

https://mohe.gov.af


## جلسه شورای علمی دایر شد



جلسه شورای معینیت علمی وزارت تحصیلات عالی به ریاست دوکتور لطف الله خیرخواه معین علمی این وزارت بر گزار شد.

در. این جلسه روی چگونگی تطبیق تصامیم و فیصله های جلسه قبلی صحبت شده و بخاطر عملی شدن آن تاکید شد .

سپس اعضای شورا مطابق اجندا روی موضوعات بحث کرده در مورد تصامیم لازم اتخاذ نمودند.

## مقرره تضمین کیفیت و اعتباردهی بازنگری گردید




مقرره تضمین کیفیت و اعتباردهی وزارت تحصیلات عالی در جلسه بورد تضمین کیفیت و اعتباردهی با حضورداشت معاونین علمی شماری از نهاد های تحصیلات عالی خصوصی، بازنگری گردید .

در جلسه یاد شده که تحت رهبری شاکر وحیدی رئیس تضمین کیفیت و اعتباردهی وزارت تحصیلات عالی دایر شد، اعضای جلسه بعد از بحث های همه ۶

## ورکشاپ تشریح و توضیح پلان استراتژیک سال مالی۱۴۰۱ برگزار شد




ورکشاپ تشریح و توضیح پلان استراتژیک سال مالی ۱٤۰۱ ه.ش از طرف ریاست پلان، پالیسی و تقنین وزارت تحصیلات عالی برای نمایندگان ریاست های مرکزی این وزارت برگزار شد. ۶

## د لوړو زده کړو مالی او اداري معین د غور له والي سره وکتل

د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین مولوي حافظ محمد حامد حسیب په خپل کاري دفتر کې د غور له والي سره وکتل . ۶



## د جهان خصوصي پوهنتون څخه څارنه وشوه

د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رئیس د جهان خصوصي پوهنتون څخه لیدنه او څارنه وکړه .



د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رئیس شیخ شاکرالله وحدت له جهان پوهنتون څخه د لیدني پر مهال د دیني او ملي ارزښتونو د عملي کولو د ګټو په اړه خبري وکړې او د جهان خصوصي پوهنتون له مسؤلانو او استادانو یې وغوښتل چې علم ۶


صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: مدیرجان کوټوال
هیأت تحریر: اخترمحمد عبیر، محمد اسلم اسلم و ناصر خان شیرزی
گزارشگران: کاوون رمز، محب الله امیري و قاسم جویا
تصویر بردار: احمد سیر معرفت
صفحه آرا: عنایت الله حنیفی
مصحیح: الفت الله حلیم
جمع آوری مواد هفته نامه: زمری یعقوبی
نشاني: کارته چهار, کابل افغانستان
سال تاسیس: ۱۳۹۱ خورشیدی
تیراژ: ۲۵۰ نسخه
محل چاپ: مطبعه ریاست نشرات وزارت تحصیلات عالی
وب سایت وزارت:www.mohe.gov.af
شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵
آدرس الکترونیکی:ministrymohe@gmail.com


**ګرانه لوستونکیه!**

**که تا سي غواړئ چې ستا سو لیکنې په لوړو زده کړو اونېزه کې خپرې شي، نو کولای شئ چې خپلې لیکنې، نیک نظرونه او سالم وړاندیزونه په لاندې پتو را ولیږئ.**

**خوانندگان گرانقدر!**

**تقاضامندیم نظریات و پیشنهادات تان را جهت بهبود نشرات این هفته نامه با ما شریک نموده و همچنان مطالب و نوشته های تان را جهت نشر در این هفته نامه از طریق ایمیل و یا به شکل مستقیم به ریاست اطلاعات، نشرات و روابط عامه ارسال دارید.**


# لوړو زده کړو اونیزه — هفته نامه تحصیلات عالی

۱۹۲ مه ګڼه – نهم کال - ۱۴۰۱ هـ.ل – غبرګولی

https://mohe.gov.af


## د کاري پروسو اسانولو او اصلاحاتو رامنځته کولو په موخه هوکړه لیک لاسلیک شو



د کاري پروسو د ښه والي او ساده کولو په موخه، د لوړو زده کړو وزارت، اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو او تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري تر منځ، د حکومت رسنیو مرکز کې د همکارۍ هوکړه لاسلیک شوه .

د دغې هوکړې موخه د ادارو تر منځ د همکاریو رامنځ ته کول، اصلاح، د کاري پروسو اسانول او په یادو ادارو کې د اسانتیاوو او روڼتیا رامنځ ته کول دي .

په دغې موخه جوړه شوې ناسته کې، د لوړو زده کړو، مهاجرینو او بېرته راستنېدونکو او کار او ټولیزو چارو وزارتونو مسؤلانو او همدارنګه د چارو اداري ریاست او د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري ګډون کړی و . ۷

## سرپرست وزارت تحصیلات عالی از جریان امتحان تدریس علمی استادان جامعات دینی نظارت نمود

سرپرست وزارت تحصیلات عالی از جریان امتحان تدریس عملی ا ستادانیکه قرار ا ست در ریا ست جامعات و تخ ص صات مقرر گردند، نظارت نمود. ۷




## کابل پولي تخنیک پوهنتون د نړیوال ژورنال د فعالیت اعتبار لیک ترلاسه کړ

لوړو زده کړو وزارت د یوې غونډې په ترځ کې، کابل پولي تخنیک پوهنتون ته د هېواد په کچه د انجنیري او ټکنالوژۍ لومړني نړیوال ژورنال د فعالیت اعتبار سند ورکړ .

یاده غونډه چې د قرانکریم په مبارکو ایاتونو سره پیل شوه، د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه په تولنه کې د څېړنو مقام مهم او ارزښتناک وباله او د ملي او نړیوالو ژورنالونو د ودې او پراختیا په برخه کې یې له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره د هر اړخیزې همکارۍ ژمنه وکړه.

نوموړي له هغو مسئولانو او استادانو څخه چې د یاد ژورنال په جوړولو کې ۷




۷

## معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی از نهاد های تحصیلات عالی غزنی دیدار بعمل آورد

معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی و هیئت همراه شان، طی سفر کاری به ولایت غزنی از پوهنتون های این ولایت دیدار بعمل آورد. ۷



## د هېواد په ټولو وزارتونو کې د دیني جامعاتو د اسنادو ثبت دفترونه پرانیستل کېږي

د دیني جامعاتو او تخصصاتو لوی ریاست په ټولو وزارتونو کې د اسنادو ثبت دفترونه پرانېزي.

په همدې مناسب جوړه شوې غونډه کې، چې د هېوادو بېلابېلو وزارتونو او لویو ریاستونو استازو په شمول د دیني جامعاتو او تخصصاتو لوی ریاست رئیسانو او مسؤلینو ګډون کړی وو، د قرانکریم په خو مبارکو ایاتونو سره پیل او راغلو مېلمنو ته د دیني جامعاتو او تخصصاتو رئیس مولوي سیف الدین حماد له لوري ښه راغلاست وویل شو.

په دې جوړه شوې غونډه کې د دیني جامعاتو او تخصصاتو د ارزیابۍ رئیس مولوي محمد داؤد حقاني بیا د یاد ریاست پر فعالیتونو، په وزارتونو کې د دفترونو په پرانېستلو او د نویو دفترونو پر چارو رڼا واچوله. ۷

## سرلیکنه

### تحصيلي خپلواکي

افغانســـتان په خپل تاریخ کې د بهرنیو هېوادونو له ښـکېلاک سـره مخ و، خو د دغو ښـکېلاکونو یوازې پوځي برخه خلکو ته څرګنده او د پام وړ وه. دغه راز همېشه یې یوازې د پوځي ښکېلاک د پای ته رسـولو لپاره هڅې کړې دي. په داسې حال کې چې یاد ښـکېلاکونه یوازې په پوځي برخه کې نه وو، بلکې د پوځي ښکېلاک له لارې د ایډیولوژیو جګړه وه.

د ایډیولوژیکي جګړې او پر ایډیولوژۍ د اغېزې تر ټولو غوره لارې چارې تعلیم او تحصـیل دی. د یوې ټولنې خلک له ځان سـره همفکره کول او پر هغوی د خپلو پـالیسـیو منل یوازې او یوازې د تعلیم او تحصیل له لارې شوني دي.

په پخوانیو او په ځانګړې ډول تېر شل کلن اشغال کې د افغانسـتان تحصـیلي نظام په پراخه توګه د پردیو مفکورو تر برید لاندې و. پـه تحصـیلي نصـاب کې د بېلګو له بدلون نیولې، د محتوا تر بدلون پورې، پر هره برخه د اشغال نښې ښکاري. ښکېلاګګرو هېوادونو هڅه کوله چې د افغانستان تحصـیلي نظـام د خپلو مفکورو مطـابق پر مخ بوځي. ان په دغه برخه کې یې په خپلو منځونو کې سـیالۍ کولې او هر هېواد هڅـه کولـه، چې یو پوهنتون تمویل او هلته خپل پلانونه عملي کړي. د تحصیلي مرکزونو د اشغال نښې د محصلینو په مفکور، د ژوند موخو ا و ټولنې پـه چلند کې پـه واضـح ډول ښـکاري، ځکه تعلیمي او تحصـیلي مرکزونـه هغـه ځایونـه دي، چې د ټولنې افکـار او چلند رهبري کوي.

د ا.ا.ا له حاکمیت وروسـته د ټولو هغو مؤسـسـاتو او اینجوګانو دسیسـو او شومو پلانونو ته د پای ټکی کېښـودل شـو، چې د افغانسـتان د تحصـیلي نظام د سـیکولر کولو لپـاره یې کـار کـاوه. اوس الحمدالله هېڅ بهرنی هېواد او اینجو د افغانستان پر تحصـیلي سکټور اغېزې نه لري، د افغانسـتان د تحصـیلي سکټور ټولې چارې په خپلواک ډول د افغـانـانو لـه لوري، لـه خپلې عقیـدې او ملي ارزښـتونو سره سمې د د لوړو زده کړو وزارت له لوري رهبري کېږي.

په درناوي
اداره

## سیرت نبوی
## نبوي سیرت



ترتیب: مدیر جان کوټوال

### قریش په دارالندوه( ولسي جرګه) کې:

کله چې مشـرکانو ولیدل، چې د رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم ملګري له پوره جوړښـت څخه وروسـته مهاجر(کډوال)، خپل مالونه، ښـځې او کوچنیان یې له ځان سره، اوس او خزرج ته یوړل .

نو دې پېښې دومره دردمند او غمجن کړل، چې له دې مخکې ورته داسې غم هېڅ چیرې نه وو پېښ شوی.

ځکه د دوی بوت پرستۍ او اقتصادي ټولنېزو اړخونو ته نېغ په نېغه خطر و.

ځکه دوی د محمد صـلی الله علیه وسـلم د رهبرۍ او مشـرۍ صـفتونه ښـه پېژندل او دا هم ورته معلومه وه، چې د ده ملګري څومره هوډمن د یوه دربېځ خاوندان او د ده په لاره کې څومره قربانۍ ته تیار دي او په دې هم پوهېـدل، چې د اوس او خزرج قومونو خلـک څومره توان او مقاومت لري.

او دا قومونه د خپلې روغې جوړې د پاره څومره هلې ځلې کوي، ترڅو د پېړیو پېړیو تریخ دور ختم کړي، له دوی څخه د مدینې استراتیژیکي اهمیت هم پټ نه وو، چې د یمن څخه شام ته تلونکو تجارتي کاروانونو چې د سـرې بحیرې په غاړه به تلل، چې په امنیت کې یې ډېر رول درلود.

یوازې د مکې خلکو هر کال دوه لکه او پنځوس زره (۲۵۰۰۰۰) سـرور زرو او دینارو تجارت کولو او دا معلومه خبره وه، چې د دې تجارت دارومدار د پورتنۍ تجارتي لارې پورې تړلې و.

مشـرکان په دې پوهېدل، که یثرب د اسـلامي دعوت مرکز شـي؛ نو د دوی ټولنې تـه خطر ورځ پـه ورځ زیاتېږي؛ نو ځکه یې هڅه کوله چې دا خطر باید په بشـپړ ډول له مینځه یوسـي، چې دا بشـپړ ختمول یې د اسلامي دعوت د بیرغ رپوونکي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ختمولو کې اټکل کېده.

د نبوت په (۱۴) کال د صفرې میا شتې په (۲۲) نېټه د پنج شنبې په ورځ چې (۲۲۲) م کال د سپتمبر د میاشتې د (۱۲) مې نېټې سره سمون لري، چې د عقبې د لوی بیعت څخه پوره دوه نیمې میا شتې ورو سته د مکې په ولسـي جرګې( دارلندوه) کې د مشـرکانو د ورځې په اول کې د خپل تاریخ خطرناک ترینه غونډه، چې د قریشـو ټولو قومونو او خېلونو په کې برخه اخېستې وه تر سره کړه.

ترڅو هغه پلان وڅېړي چې د اسـلامي دعوت د بیرغ رپونکي د ژوند د ژر له مینځه وړلو لپاره جوړ شوی و.

د شـورا غـړي د وعـدې مطـابق د غونـډې ځـای تـه روان وو، چـې ابلـیس ورسـره د یـو معـزز سـپین ږېـري پـه شـکل چـې خاصـه چـپن یـې اغوسـتې وه او د شـورا پـه دروازه کـې ودرېـد او ویـې ویـل: "د نجـدیانو مشـر یـم، خبرشـوم چـې تاسـو مهـه غونـډه لـرئ، راغلـي یـم چـې ستاسـې خبـرې واورم او زمـا لـه تجربو هم ګټه واخلئ".!

اجازه ده داخل شم؟ ټولو وویل: هو!

نـو لـه همـدې اجازې سره سم شـیطان هـم پـه غونـډه کې برخه واخېسته.

په شورا کې بحث او اخیرنۍ شومه پرېکړه:

د غونـډې د جوړیـدو وروسـته څېړنـې، وړاندېزونـه او بحثونـه پیـل او لـه اوږدو خبـرو وروسـته ابوالاسـود وویـل: " لـه خپـل مینـځ څخـه بـه یـې لـرې او لـه وطـن څخـه بـه یـې وشـړو، هـر چېـرې چـې ځـي ولاړ دې شـي، هـېڅ بـاک نشـته، چـې څـه ورتـه پېښـېږي، مـوږ بـه ځانونـه بېغمـه کـړو او وضـعه بـه مو د پخوا په شان عادي وي" .

لـه نجد څخـه راغلـي سـپین ږیري وویـل:"نـه! سـوګند پـه الله جـل جلالـه دا روغ نظر نـه دی، سـوګند پـه الله جل جلالـه کـه دا دعربـو هر قـوم او کلـي تـه ولاړ، هغـه خلـک بـه ملګـري او ستاسـې پـه خـلاف بـه یـې راپورته کړي" .

ابـو البختري وویـل: " د اوسـپنې پـه ځنځیرونـو یـې وتـړئ، ترڅـو دا هـم ده د تېـرو شـاعرانو د حـال سره مخ او هملته ساه ورکړي .

د نجـد سـپین ږیري وویـل: نـه! سـوګند پـه الله جـل جلالـه دا خبـره روغـه نـه ده؛ ځکـه د ده پیغـام بـه د دروازو لـه چـاودونو څخـه د ده ملګروتـه ورسـېږي، له تاسو به یې خلاص او پر تاسو به پیاوړي شي.

پـه پـای کـې د مکـې لـوی سـرغړونکي ابوجهـل وړاندېز وکړ او ټولو غړو پرې لاسونه پورته کړل.

ابـو جهـل وویـل:"کـه مـوږ لـه هرقـوم څخـه یـو تکـړه، توریالی او غوره ځوان راټول کړو، هـر یـوه تـه تېـره او غوڅنـده تـوره پـه لاس کـې ورکړو، ټـول پـه یـو ځـای، یوځـل او یـوه ګـوزار پـرې حمله وکـړي او ویـې وژنـي؛ نـو دده سړي لـه غـم څخـه بـه خـلاص شـوو او ټـول قومونـه بـه دده پـه وژلـو کـې شـریک شـوو؛ نـو بیـا بـه د بنـو عبـد منـاف پـه تـوان کـې نـه وي، چـې لـه ټولـو قومونـو سـره وجنګېـږي؛ نـو د بـې وسـۍ لـه وجـې بـه دیت ومنـي او مـوږ بـه هـم د دوی د وینې دیت ورکړو" .

د نجـد سـپین ږیـری پورتـه او ویـې ویـل:"بـس خبـره همـدا ده، فکـر نـه کـوم دا سـتونزه لـه دې لارې پرتـه پـه بل څه حل شي" .

د جلسـې ټولـو غـړو د مـوافقې لاسـونه پورتـه او پـه داسـې حـال کـې کورونـو تـه سـتانه شـول، چـې هـوډ یې وکړ، باید دا پرېکړه ډېر ژر عملي کړي .



### معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی از ...

حافظ محمد حامد حسـیب معین مالی و اداری وزارت تحصـیلات عالی در حالیکه نماینده خاص وزارت تحصیلات عالی نیز حضورداشت، از صنوف درسـی، دفاتر اداری و سـایر بخش های پوهنتون تخنیکی غزنی دیدار بعمل آورد.



هم چنان معین مـالی و اداری وزارت تحصـیلات عالی از بخش های تخریب شده تالار ثقافت اسلامی که در سال ۲۰۱۳م به ا ساس فیـصله شورای وزیران، به پوهنتون تخنیکی سـپرده شـده بود، نیز دیدار نمود.

در جریان این دیدار ها پوهنمل فدا محمد محمدی رئیس پوهنتون تخنیکی غزنی ضـمن قـدردانی از تشریـف آوری هیئت وزارت تحصـیلات عالی به آن ولایت، در رابطه به یک سـلسـله مشـکلات شـان منجمله مشـکل برق و آب لیلیه، ترمیم و بازسـازی بخش های تخریب شده تالار ثقافت اسلامی او سایر نیازمندی های این پوهنتون به معین مالی و اداری وزارت تحصـیلات عالی معلومات داده که از جانب وی در زمینه حل م شکلات یاد شده وعده همکاری همه جانبه داده شد.

### د هېواد په ټولو وزارتونو کې د دیني جامعاتو د ...

دغـه راز د لـوړو زده کـړو وزارت د خصوصـي محصـلانو چـارو رئـیس محمـد اسـماعیل روحـاني لـه لـوري د اسـنادو او فورمـو ډولونـو، د فورمـو ارزیـابي او معادلت، د فورمـو لارښـود تشـریح او معلومات وړاندې شول.

د غونـډې پـه وروسـتیو کـې د ګـډونوالو پوښـتنو تـه د مسـؤلینو لـه لـوري ځوابونـه ورکـړل شـول او دغـه غونـډه د هېـواد د اسـلامي نظـام د بقـاء او تحصـیلي نظـام د پیاوړتیـا پـه دعـاء سـره پـای تـه ورسیده.

د یـادونې وړ ده چـې پـه دې وروسـتیو کـې د لـوړو زده کـړو وزارت تـر چتـر لانـدې د دینـي جامعـاتو او تخصصـاتو لـوی ریاسـت د څلـورو (د معتبـرو دینـي جامعـاتو د ثبـت ، د اسـنادو د ارزیـابۍ او معادلـت ، د اسـنادو تهیـه او سـوابقو د تنظـیم او د تخصصـاتو) ریاسـتونو پـه لرلـو سـره ایجـاد شـوی دی.

### د کاري پروسو اسانولو او اصلاحاتو رامنځته کولو په موخه هوکړه ...

د لوړو زده کړو سـرپرسـت وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني په خپلو خبرو کې وویل، چې د افغانستان ستونزه د ۴۳ کلنې جګړې له امله ده، چې خلکو ته په زده کړو او کاري پروسو کې د اسـانتیاوو د رامنځ ته کولو په وسـیله له دې ستونزو راوتلی شـو او د اسـلام مقدس دین هم په دې برخه ټینګار کړی دی .

نوموړي زیـاتـه کړه چې لوړو زده کړو وزارت، یاد اصـل ته په کتو د اسـتادانو د جذب په برخه کې لازمې اسانتیاوې رامنځ ته کړې دي .

د لوړو زده کړو سـرپرسـت وزیر د خپلو خبرو په دوام کې له هېواده بهر استادانو څخه وغوښتل، چې هېواد ته راسـتـانه شـي او خپلو خلکو ته خدمت وکړي او له دې لارې خپل هېواد ودان او په ځان بسیا کړي .

همدارنګه د نورو ادارو مسؤلانو هم د موضـوع اړونـد خبرې وکړې او پـه اداري چـارو کـې د



اســانتیـاوو رامنځتـه کول یې د غوره خدمتونو لپاره یوه جدي اړتیا وبلله .

د یادولو وړ ده، چې په یاده ناسـتـه کې پر یادې هوکړې سـربېره، د اداري اصـلاحـاتو او ملکي خدمتونو اداري، د چارو اداري عمومي ریاسـت، د کـار او ټولینزو چـارو او مهـاجرینو او بېرتـه راسـتنېـدونکو وزارتونو تر منځ هم هوکړې لاسلیک شوې.

### سرپرست وزارت تحصیلات عالی از جریان امتحان تدریس علمی استادان جامعات دینی ...

امتحان یاد شـده که در تالار وزارت تحصـیلات عالی با تلاوت قرآن اعظیم الشان آغاز شد، از شماری استادانیکه امتحان تحریری و تقریری را موفقانه سپری نموده بودند، امتحان تدریس عملی (دیمو) از نزد شان اخذ گردید.

در ابتدا مفتی عبدالرؤف فراهی رئیس نصـاب تحصـیلی وزارت تحصـیلات عالی، در رابطه به امتحان یاد شـده و آجندای آن معلومات ارایه نمود.

وی در ادامه گفت که با درنظرداشـــت شـــیوه تدریس، حاکمیت بر مو ضوع و سایر معیار های تعین شده برای استاد، از سوی هیئت منصفه برای آنان نمره داده خواهد شـد و اشـخاص کامیاب به صـفت اسـتاد در جامعات و تخصصات متذکره تقرر حاصل خواهند کرد.

سـپس اسـتادان متذکره به ترتیب و مطابق رشـته های شان در حضورداشت سرپرست وزارت تحصیلات عالی و هیئت منصفه، تدریس نمونه وی شان را ارائه نمودند .



همچنان الحاج مولوی عبدالباقی حق انی سـرپرسـت وزارت تحصـیلات عالی ضـمن نظارت از جریان این آزمون، اسـتادان موفق شـده را به مسـئولیت های شـان متوجه سـاخته از آنان خواسـت تا مطابق شـرایط فعلی مح صلان شان را با زیور علوم دینی و ع صری آرا سته نمایند.

### کابل پولي تخنیک پوهنتون د نړیوال ژورنال...

زحمتونـه ګـاللي مننـه وکړه او د دغـه ژورنـال جوړېـدل یې نـه یوازې د کـابـل پولي تخنیـک پوهنتون، بلکې د ټول هېواد په سطحه یوه لویه لاسته راوړنه وبلله .

دغه راز د کابل پولي تخنیک پوهنتون عمومي رئیس پوهنوال انجنیر عبدالرشید اقبال د لوړو زده کړو وزارت پلاوي ته د ښـه راغلاسـت تر څنګ، د کابل پولي تخنیک پوهنتون د نړیوال ژورنال د جوړېدو او په نړیواله درجه بندۍ کې د یاد پوهنتون د شـاملېدو لـه امله خوښـي څرګنده کړه.

وروسـتـه د کـابـل پولي تخنیـک پوهنتون د نړیوال ژورنال مدیر مسـئول ډاکټر احمد جواد نیـازي پـه بېلابېلو علمي برخو کې د علم او څېړنو پر ارزښـت خبرې وکړې او د نړیوال ژورنـال د جوړولو د څرنګوالي او د ژورنـال د نورو ځانګړتیاوو په اړه یې معلومات وړاندې کړل.

# زندگی در سکوت

نویسنده: لطیف آرش



از چند روز به این طرف هم سرم می گوید که باید به عیادت یک بیمار برویم، وی هفته قبل در یک حادثه مجروح شده بود. صبح زود از خانه حرکت می کنیم و آروز می کنیم که در راه بندان گیر نمانیم، نار سیده به چوک دهمزنگ موتر ها در چند قطار و پهلوی هم ایستاده اند، در ابتدا فکر می کنیم که از راه بندان های معمول ا ست، اما این گونه راه بندان ها معمولاً بعد از ساعت هشت اتفاق می افتد حالا که ده دقیقه به هفت مانده چطور ممکن است جاده دهمزنگ این قدر بیروبار با شد. راننده موترش را خاموش کرده و از آن پیاده می شــود، همســرم می گوید ما طالع نداریم چقدر تلاش کردیم که در راه بندان گیر نکنیم، اما...

در دو سمت جاده دارالامان در پهلوی پولیس ترافیک نیروهای نظامی از چند ارگان نیز ایســتاده اند، راننده دوباره به موتر بر می گردد و با بی حوصــله گی می گوید:

-ترافیک میگه کدام آدم کلان میایه که قصر دارالامان را سیل کنه.

عقربه ســاعت به کندی تمام می چرخد، فکر می کنم زمان از حرکت باز ایستاده است و یک دقیقه مثل یک ساعت می گذرد، راننده دوباره از موتر پایین می شود و این بار دیر تر بر می گردد و به مجرد نشستن دست به جیب می شــود و قوطی نصــوارش را از جیب چپش بیرون کرده و با سر قوطی کمی نصوار زیر لب گذاشته و سر قوطی را دوباره می بندد، در آیینه کوچک قوطی نصوار چهره اش را وارانداز می کند و یک دست بالای ریش ماش و برنجش می کشد و قوطی نصوار را دوباره در جیبش می گذارد.

عقربه ساعت بالای عدد هشت ایستاده ا ست، راننده دروازه موتر را باز کرده و نصوارش را تف می کند و بعد از چند سرفه بلغمش را نیز به روی جاده می اندازد، من می خواهم به این کار وی اعتراض کنم، ولی هم سرم مانع می شود. نیروهای امنیتی و پولیس ترافیک چهار طرف را به دقت زیر نظر می گیرند و نگران تر از قبل می ر سند و با عجله به این و آن سو می روند که در همین حال چندین وا سطه سیاه رنگ لندکروز و چهار داتسن پر از محافظین تا دندان مسلح با سرعت زیاد از چوک همزنگ عبور کرده وبه سوی جادهٔ که به قصر دارالامان منتهی می گردد می روند.

راننده کلید را در سویچ چرخاند و موتر با سرو صدای زیاد روشن شد و شروع به لرزیدن کرد، تمام موتر چنان می لرزید که نزدیک بود برایم حالت تهوع ایجاد شود که موتر پیش روی ما شروع به حرکت کرد و با حرکت موتر از لرزش آن کا سته شد، در ساحه سینمای پامیر راه شدیداً بند بود، نصف جاده توسط کراچی ها و موتر های پارک شده بسته کرده بود، موتر ها در سه قطار پهلوی هم ایستاده بودند. راه بندان جاده سینمای پامیر زیاد کسل کننده نبود و بعد از گذشت چند دقیقه باز شد.

وقتی به بالای تپه کارته نو رســیدیم، راننده گفت که باید صد افغانی بیشتر بدهم چون دو بار در راه بندان گیر مانده و قیمت تیل هم بعد از حادثه اسلام قلعه افزایش یافته است، با دل ناخوا سته صد افغانی ا ضافه به راننده دادم و از موتر پیاده شدیم، خانمم آدرس دقیق خانه خویشاوندان شان را بلد نبود و فقط از آن ها یک شــماره داشــت که آن هم خاموش بود.

از دوکان داران سر کوچه پر سیدیم ولی کسی درباره محل سکونت آن ها معلومات نداشتند، چندین کوچه را پاییدیم، اما خانه شان را پیدا کرده نتوانستیم، در اکثر قسمت های کابل خانه های رهایشی بدون نقشه اعمار گردیده است، ازهمین رو یافتن خانه ها کار نهایت د شوار ا ست. به ناچار دوباره به سمت جاده عمومی حرکت کردیم که به خانه بر گردیم، ولی در مسیر راه چشم همسرم به یکی از کودکان افتاد، وی را در اغوش گرفته و بوسید، طفلک ما را به خانه شان رهنمایی کرد.

خانه در کوچه ای بود که چند لحظه قبل به آن رفته بودیم، حویلی بزرگ بود در وســط حویلی دو درخت الوبالو، ســه درخت سیب و یک درخت بزرگ توت قرار داشت، در قسمت راست حویلی یک خانه ی کوچک برای مرغ ها ساخته شده بود که در پهلوی آن یک سگ سیاه لم داده بود و ظاهراً از تابش آفتاب لذت می برد.

در قســمت بالای حویلی یک صــفه بزرگ ســمنت شــده موقعیت داشت، یک قسمت صفه توسط قالین کهنه و رنگ رفته مزاری فرش گردیده بود و بالای آن یک خانم پیچه سفید و چند طفل نشسته بودند، یکی از اطفال در آغوش زن پیر جا خوش کرده بود، یکی از خانم ها ما را به یکی از اطاق ها که مشرف بر صفه بود رهنمایی کرد.

در عرض چند لحظه سروکله دو خانم و سه دختر جوان و نوجوان نیز پیدا شد، خانمم با دیدن آن ها از جایش برخاست و با هرکدام برای لحظات کوتاهی گری ست، من هم ضماً اظهار همدردی و پر سیدم که بیمار کجا است، یکی از خانم ها گفت که وی را به پانسمان برده است، در ادامه صحبت هایش از سیستم بهداشتی دولتی شکایت کرده گفت که در شفاخانه های دولتی ا صلاً امکانات نی ست و مریض داران باید هرچیز را به شــمول ســوزن پیچکاری ازدواخانه های بیرون بخرند.

بعد از نوشیدن دو سه گیلاس چای به دست شوی نیاز پیدا کردم و با یکی از پ سربچه ها رفتم د ست شوی، وقتی از کنار صفه رد می شدم به زن پیچه سفید سلام کردم ولی هیچ جوابی نشنیدم، بجای زن پیچه سفید پسر بچه کوچک برایم گفت که مادرکلانش کر است و چشمانش هم ضعیف شده ا ست، زن لباس سفید گلدار به تنش بود،تار های موهای سفید که که از چادر مشکی چملک بیرون زده بود، ژولیده و چرکین به نظر می رســید، زن جوراب نپوشیده بود و اطراف کوروهای پاهایش کمی ترقیده و چرک بود.

دو ســاعت از آمدن ما ســپری شــده بود، ولی از بیمار خبری نبود و قبل از این که تصــمیم بیگریم از خانه بیرون شــویم وی با دو مرد به خانه آمد، فرد مجروح برای مان قصه کرد که چطور زمانی که در سر سرک منتظر موتر بود تا به وظیفه برود یک موتر نظامی که در وســط جاده در حال حرکت بود منفجر گردید و در نتیجه وی نیز مجروح گردید.

گرچه ساعت نزدیک نان چا شت بود ولی ما ت صمیم گرفتیم که دوباره به خانه بر گردیدم، در افغانســتان زمانی که کســی می میرد و یاهم مریض می شــود، کسانی که برای فاتحه یا بیمار پر سی می روند معمولاً غذای چا شت و یاهم شب را در خانه مرده دار و مرده دار صرف می کند و باعث زحمت آنان می گردند.

در مســیر راه از همســرم درباره آن زن پیچه ســفید پر سیدم، هم سرم گفت وی مادر آن فرد مجروح بود، چند ســال قبل شــوهرش فوت کرد و بعد از فوت هم سرش سیه روزی این زن آغاز گردید، هیچ یک از پسران حاضر نیست که از وی مواظبت کند، اتاقش جدا ا ست و پ سرانش به نوبت به وی نان و آب می دهد، چند سال قبل تکلیف گوش پیدا کرد، اما کسی وی را نزد داکتر نبرد از همین رو حالا کر است، چشمانش هم کم فروغ است و به بسیار سختی می بیند، سنوهایش از وی به عنوان یک خدمه استفاده می کند و در طول روز مراقبت از اطفال شان را به وی واگذار می کنند.

همســرم در ادامه گفت که این زن زندگی بســیار پر دردی دارد، چندین سال ا ست که به زادگاهش نرفته است و به گونه زندانی است در این حویلی، چون افراد این خانواده وی را به هیچ محفل از دوستان شان نمی برند و حتا زمانی که گوش و چشم هایش سالم هم بود نیز وی اجازه اشتراک در هیچ مراسم خوشی را نداشت، زمانی که از نظر فزیکی توان مند تر بود از وی مثل یک برده در خانه کار می کشیدند.



# هیرول: ګټې او زیانونه

غ.د. خاورین

د انسان حافظه څلور ډوله عملیې ترسره کوي چې هغه یاد ته سپارل، په یاد کې ساتل، بیا په یاد راوستل او هیرول دي. هیرول معمولاً د حافظې منفي اړخ بلل کیږي. ټول هغه لاملونه چې د حافظې نورې عملیې آسانوي، د هغو نشتوالی د هیریدو سبب ګرځي. څومره چې خلکو ته د حافظې درې لومړنۍ عملیې په زړه پورې دي، هومره بیا له هیرولو څخه زړه توري دي. خلک نه غواړي چې خپلې حافظې ته سپارلې موضوعات له لاسه ورکړي؛ ځکه داسې انګیرې چې دا د دوی د تیرژوند پایله ده. همدا خاطرې او یادښتونه د انسان په ذهن کې د تیر ژوند انځور جوړوي. هرچا ته د ده د تیر ژوند انځور ساتل ځانګړې ارزښت لري. خو اروا پوهان وایي چې هرڅه په حافظه کې ساتل ګټور کار ندی. د دوی په آند هیرول په خپل ځای کې دومره ګټې لري، هومره چې په یاد کې ساتل یې لري. د بیلګې په توګه؛ د پلار، مور او د نورو خپلوانو د مړینې خبر اوریدل په لومړي سر کې ډیر ګران او دردوونکی وي، ان تر دې چې د داسې خبرونو په اوریدو له سرې نه لوری ورک شي؛ د ژوندانه چارې یې ګډې وډې شي؛ خوراک څښاک ورته بې خونده شي او لاس یې کار ته نه وړاندې کیږي نو که هیرول یې مرستې ته و نه رسیږي، داسې انسان به د مرګ کندې خواته روان وي. دا د هیرولو برکت دی چې وروسته له یوې مودې څخه د ډیرو خواشینوونکو پیښو اغیزې هم پر ذهن باندې لږې شي او انسان بیا د عادي ژوند کولو جوګه شي. له بلې خوا هیرول ډیر زیانونه هم لري. د بیلګې په توګه که یو زده کوونکی د ټاکلي مضمون زیاته برخه زده کړې وي؛ خو د ازموینې په ورځ ورڅخه زده کړي موضوعات هیره شي، څومره به تاوان وکړي؟ یا که یو سیاستوال د یوه سیاسي وینا پر مهال د خپل تقریر اساسي ټکي هیرکړي، څومره به یې د خلکو پر وړاندې تله سپکه شي؟ او داسې نور..

پورتنۍ خبرې داسې لنډولای شو چې، د ترخو او خواشینوونکو خاطرو هیرول او د مهمو او ګټورو موضوعګانو په یاد ساتل انسان ته ګټور دي. هرڅه په یاد ساتل او هرڅه هیرول ګټور ندي.

د مسلک پوهان هیرول دوه ډوله بولي:

۱. په خپلې ارادې او خوښې سره هیرول
۲. پرته له خپلې خوښې او ارادې هیرول

## الف) په خپلې خوښې او ارادې سره هیرول

دا د هیرولو هغه ډول دی چې موږ یې په خپله خوښه غواړو او د ځینو ناوړو خبرو یا موضوعګانو د هیرولو په موخه ورڅخه کارا خلو. د بیلګې په توګه : هغه پیښې او موضوعګانې چې زموږ ذهني آرامتیا ته زیان رسوي، هڅه کوو چې هیر یې کړو ؛ په دې کار کې ذهن له موږ سره مرسته کوي او ناوړه خاطرې د هیرولو څپو ته سپاري .

فروید په خپل یو تألیف کې د بیلګو په ښودلو سره دا فرضیه وړاندې کوي چې: هغه کوم شیان چې په زړه پورې نه وي له بیداره ضمیر څخه لیرې پاتې کیږي.

په دې هکله چې کوم موضوعات له ذهن څخه زر وځي او کوم موضوعات په ذهن کې پاتې کیږي؛ فروید له ثورندیک سره یوځای یوه ګډه څیړنه ترسره کړې چې ورڅخه په لاندې توګه دوه اړخیزه پایله وتلې ده:

۱. په عامه توګه په زړه پورې شیان او موضوعات د هغو شیانو او موضوعګانو په پرتله چې په زړه پورې نه وي، د ډیرې مودې لپاره او په ښه شان په ذهن کې پاتې کیږي.
۲. په زړه پورې او خواشینوونکي شیان دواړه بیا د بې ارزښته او بې اهمیته شیانو په پرتله په ذهن کې ښه ځای نیسي .
۳. بد بینه کسان خواشینوونکي خبرې او موضوعات په حافظه کې د ډیرې مودې لپاره ساتي خو په زړه پورې خبرې او موضوعات زر هیروي.
۴. که هیرول او په یاد کې ساتل دا دواړه زیات زموږ په واک کې وي هومره به موږ ته د نیکمرغۍ او بریالیتوب ور پرانیزي.

## ب) پرته له خپلې خوښې هیرول

دا هغه ډول هیرول دی چې زموږ په واک کې نه وي. ډیر هغه شیان چې موږ یې نه غواړو هیرکړو ، هغه زموږ څخه هیریږي او کله ناکله له دې امله موږ ته ډیر زیان را رسیږي .

د غیر ارادي یا پرته له خپلې خوښې هیرولو لاملونه په دوه برخو ویشل کیږي چې یو یې د اروایي ستونزو له امله رامنځ ته کیږي او بل یې فزیولوژیکي لامل دي چې ماغزو ته د فزیکي زیان له امله را منځ ته کیږي.

هیرول د فزیولوژیکي زیان له امله

په دې ډول هیرولو کې دا لاندې بیلګې یادولای شو:

۱. د کورساکوف سندروم
۲. الزایمر
۳. هیرول د بوډاتوب له امله

هیرول د اروایي ستونزو له امله

په دې کې دا لاندې ډولونه د یادونې وړ دي:

۱. هیرول د نیمګړې زده کړې له امله
۲. هیرول د نه کارولو له امله
۳. هیرول د تداخل له امله
۴. هیرول د نښو نښانو د بدلون له امله
۵. هیرول د کار پای ته رسیدو له امله

(شرح او تفصیل به بله برخه کې)

## غوره ویناوې!

راټولونکی: ناصر خان شېرزی

د حضرت لقمان حکیم رح نصیحتونه!

۱. هغه راز چې له دښــمن څخه یې پټ ســاتئ، دوست ته یې هم مه ښکاره کوئ؛ ځکه کېدای شي، چې دا دوست مو یو وخت دښمن شي !
۲. هر وخت خپل مرګ په یاد ولرئ !
۳. ځوانمردي د ځان عادت وګرځوئ!
٤. که چېرې خلک تا په هغه صفت موصوف کړي ، چې ته یې وړ نه یې مه مغروره کېږه ؛ ځکه په وینا هېڅ کله هم له تېرې څخه زر نه جوړېږي.
٥. دنیا د غلو مورچه ده په دې کې په هوښیارۍ او پوهې سره ژوند کول په کار دی.
٦. د مرګ راتګ معلوم نه دی چې کله به راځي؛ نو له وړاندې ورته تیاری نیول په کار دي.
٧. له ستونزو څخه مه وېرېږه ، ځکه چې ستوري په تیاره کې ځلېږي!
٨. د لمر ختلو پرمهال مه ویده کېږئ؛ ځکه، چې د عبادت پرمهال ویده کېدل بدبختي ده.
٩. د غوسې په حالت کې د خپل لاس ساتنه کوئ!
١٠. که عزت غواړې تمه غوڅه کړه، له هغه څه چې د خلکو په لاس کې دي او په هغه څه چې الله جل جلاله درکړي راضي اوسه!

## د مطالعې نه کولو ۳۴ زیانونه!

لیکوال : انجنیر محمد اسلم اسلم

د اونېزې درنو او معززو لوستونکو دا چې مطالعه کول ګټې فایدې لري، برعکس مطالعه نه کول بیا لاندې زیانونه لري، هیله ده چې له لاندې زیانونو څخه هم ځان او هم بل دوست وژغورئ!

د مطالعې نه کولو ۳۴ زیانونه په لاندې ډول دي.

١. خلکو او ټولنې سره به یې پېژندلګلوي کمه وي.
٢. پر ځان او نفس به باور نه لري.
٣. تکراري خبرې به کوي.
۴. د لغتونو زېرمه به یې کمه وي.
۵. له ډار او بې باورۍ سره به ژوند کوي.
٦. ذهني ورتیا به نه لري.
٧. له عقلي اړخه به کمزوری وي.
٨. پر خپلو خبرو به باور نه لري.
٩. د نورو خبرو ته به په غوږ نیولو نه پوهېږي.
١٠. د دروغو او رښتیا ترمنځ به توپیر نشي کولی.
١١. د خلکو په ځانګړنو به نه پوهېږي.
١٢. په اسانۍ به څه نشي زده کولی.
١٣. د ژوند په پرېکړو به نه پوهېږي.
١۴. په خپله ګټه او تاوان به نه پوهېږي.
١۵. په سیاست او نور روان ژوند به نه پوهېږي.
١٦. ١٦-په مجلس کې به خبرې نشي کولی.
١٧. په مشوره اخېستلو به نه پوهېږي.
١٨. ژوند به دېې ګډوډ وي.
١٩. ښه ملګري به نشي پیدا کولی.
٢٠. سرګردانه به وي.
٢١. ژر به غوسه کېږي.
٢٢. له خپل او د نورو له حقوقو به خبر نه وي.
٢٣. له فکري او شخصي پوهې به لرې وي.
٢۴. په هر ځای کې به له اجازې پرته خبرې کوي.
٢۵. نورو خلکو ته به ژر ښکنځلې کوي.
٢٦. د پوهې او نا پوهۍ ترمنځ به توپیر نشي کولی.
٢٧. د ژوند په نزاکتونو به نه پوهېږي.
٢٨. ورځنۍ چارې به یې بې نظمه وي.
٢٩. حافظه به دې کمزورې وي.
٣٠. د پوهې کچه به دې کمه وي.
٣١. بې جُراته به وي.
٣٢. په ډېره وړه خبره به وار خطا کېږي.
٣٣. -ژر به د نورو خلکو تر اغېز لاندې راځي.
٣۴. ژوند کې به تل ناکامه او وروسته پاتې وي.

## د لوړو زده کړو مالي او اداري معین د ...

د لــوړو زده کــړو وزارت مــالي او اداري معین د غور والي ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل، "چې موږ د ټول هېواد، په ځانګړي ډول له مرکز څخه لیرې پرتو ولایتونو لــوړو زده کــړو تــه ځانګړې پاملرنه کوو" .

وروسته د غور والي ملا احمد شاه د غور لوړو زده کړو مؤسسې ستونزې او اړتیاوې په ګوته او د همکارۍ غوښتنه یې وکړه، چې د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین د توان تر کچې د همکارۍ زمنه ورسره وکړه.

## مقرره تضمین کیفیت و اعتباردهی ...



جانبه مقرره تضمین کیفیت و اعتباردهی وزارت تحصیلات عالی بازنگری گردید.

رئیس تضمین کیفیت و اعتباردهی وزارت تحصیلات عالی ضمن خرسندی از بحث های مفید در راستای بازنگری مقرره یاد شده، گفت که بحث و تبادل نظر روی موضوعات تقنینی جهت جلوگیری از مشکلات آینده موثر می باشد.

سپس اعضای جلسه مطابق آجندا روی گزارش بازنگری مرحله سوم اعتباردهی پوهنتون بلخ، دیدگاه و ماموریت نهاد های تحصیلات عالی خصوصی قدس ولایت بغلان و جهان ولایت کابل و تحلیل بازدید قبل از بازنگری پوهنتون جوزجان بحث و تبادل نظر نموده و در مورد فیصله های لازم اتخاذ کردند.

## د جهان خصوصي پوهنتون څخه څارنه...

ترلاسه کولو ترڅنګ دیني او ملي ارزښتونو سره سم د ځوانانو روزنې په برخه کې له لوړو زده کړو وزارت سره همکاري وکړي. نوموړي زیاته کړه، چې د علم زده کړه فرض ده او موږ دواړو دیني او عصري زده کړو ته اړتیا لرو.



## ورکشاپ تشریح و توضیح پلان استراتژیک ...

در این ورکشاپ، انجنیر سلیمان حکیمی مدیر عمومی ترتیب و پلان به مشکلات گزارش ها اشاره نمود، پس از آن محمد داؤد څلاند آمر ترتیب و تحلیل پلان ها در باره فارمت پلان سال مالی ۱۴۰۱ این وزارت معلومات داد .

آقای څلان همچنان با اشاره به برخی چالش ها فرا راه تطبیق درست پلان استراتژیک در گذشته گفت، که این ریاست برای حل مشکل کارمندان بخاطر تطبیق بهتر برنامه ها آماده هرنوع همکاری می باشد.

همچنان محمد یوسف عزیزی کارشناس تحلیل و جمع آوری گزارش ها، پریزنتیشن معلوماتی را که در آن درصدی فعالیت ها به شکل ماهانه، ربع وار و سالانه شامل بود ارائه کرد.

در اخیر این ورکشاپ، به سوالات اشتراک کنندگان از سوی مسؤلان ریاست پلان، پالیسی و تقنین پاسخ داده شد.





## د اسلامي حاکمانو، اخلاق او صفات

لیکوال: الحاج مولوي عبدالباقي حقاني

### د رښتیا ویلو اسباب

د رښتیا ویلو لپاره داسې اسباب دي، چې هغه انسان باندې د رښتیا وینا کولو باعث کیږي.

امام ماوردي (رحمه الله) دا اسباب په لاندې ډول بیان کړي دي:

د رښتیا ویلو د اسبابو نه څینې یې د عقل موجودیت دی؛ ځکه عقل د دروغو ناوړتیا معلوموي په ځانګړې ډول په هغه وخت کې، چې د دروغو په ویلو کې نه کومه ګټه وي او نه د ضرر دفع، عقل د ښو کارونو د کولو غوښتونکی دی او د ناوړه کارونو د کولو لپاره خنډ دی.

څینې د رښتیا ویلو له اسبابو نه هغه دین دی کوم، چې په اتباع د صدق سره خلکو ته حکم کوي او د دروغو تاوانونه خلکو ته روښانه کوي؛ ځکه چې شریعت هغه څه ته اجازه نه ورکوي کوم، چې عقل منع کړې وي، بلکې شریعت د عقل له تقاضا نه زیات دروغ منع کړي دي؛ کله چې شریعت د دروغو ویلو نه منع کړې اګر که په دې کې د ګټې راجلبول او یا د ضرر دفع هم وي او عقل یوازې هغه دروغ منع کړي، چې نه پکې ګټه وي او نه د ضرر دفع.


د رښتیا ویلو د اسبابو په لړ کې مروت او میړانه هم ده؛ ځکه مروت د انسان لپاره د دروغو مانع او د رښتیا ویلو باعث دی؛ ځکه چې د انسان میړانه انسان له هغه څه منع کوي کوم، چې طبعاً بد وي؛ نو له هغه څه خو به یې خامخا منع کوي، چې هغه ناوړه وي.

د رښتیا ویلو د ا سبابو له جملې دا هم دي، چې انسان خپله ستاینه او پېژندنه په رښتیا ویلو سره خوښوي تر دې پورې، چې دا په خپله خبره کولو پښېمانه نه شي.

حضرت احنف بن قیس (رضی الله عنه) فرمایلي دي: رښتیا ویل ټولو خلکو ته پکار دي او بیا پاچاهانو ته ډېر زیات مناسب دي؛ ځکه چې په دروغو ویلو نفس باعث د اهانت او رذالت دی او پاچا د درناوي وړ وي، سپک انسان نه وي؛ نو د درناوي او سپکاوي اسباب سره نه یو ځای کېږي.

څینې پوهان بیا وایي، چې د پاچا لپاره اول سعادت او نیکمرغي د رښتیا ویل دي او اول هلاکت یې د ظلم کول دي.

د صدق او رښتیا ویلو مراتب




د امام غزالي (رحمه الله) په نزد د رښتیا ویلو شپږ (٦) مرتبې دي: د وینا رښتینولي، د نیت او ارادې رښتینولي، د عزم رښتینولي، صدق وفاء عزم، د عمل رښتینولي، د دیني مقاماتو د څېړنې رښتینولي.

١. په وینا کې رښتینولي: دا قسم په ټولو درجاتو کې مشهور دی، یعنې د انسان ژبه به په هر حال کې د حق په اظهار عادت وي.
٢. په نیت کې رښتینولي: له دې نه موخه دا ده، چې انسان په خپلو ټولو حرکاتو او سکناتو کې د الله تعالی رضا نه پرته بل شی په پام کې ونه نیسي او په دې ډول اخلاص کې هغه وینا هم داخله ده، چې د دیني مصالحو، یا د خلکو ترمنځ په اصلاح او یا د ظلم د مخنیوي په وخت کې وویل شي.
٣. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هغه کس په حقیقت کې دروغجن نه دی، چې د دوه کسانو ترمنځ په صلح کولو په وخت کې یې څه دروغ ویلي وي.
۴. په عزیمت کې صدق او رښتینولي: له دې نه مقصد دا دی، چې د ده په عزم او اراده کې به قوت وي کله، چې د یو کار کولو اراده وکړي، د زړه نا زړه توب پرته یې کوي تر دې، چې د غربت په وخت کې به انسان په دې فکر کې وي، چې که زما لاس ته مال او دولت راشي نو زه به یې د الله تعالی په لاره کې مصرفوم؛ نو که چېرته دا شخص سبا بډای شي ښایي د ده په اراده کې بدلون رانشي؛ بلکې د دومره ځواک او کمال خاوند وي، چې د مالدارۍ سره سره خپلې وینا ته په عمل کې د صدق جامه واغوندي.
۵. په وفاء عزم کې صدق: د دې معنی دا ده، چې کله انسان وینا کوي؛ نو د وینا په وخت کې به یې دا اراده حتمي وي، چې که چېرته اسباب برابر شي زه به خپلې وینا ته د عمل جامه ور اغوندم.
٦. په حقیقت کې هغه شخص انسان نه دی، چې یوه خبره وکړي او ده ته په وینا د وفاء اسباب برابر شي او د خپلې وینا په عملي کولو کې د ده عزم او اراده کمزورې وي.
٧. په اعمالو کې صدق: د دې نه موخه دا ده، چې د انسان ظاهري اعمال د ده د باطن لپاره په سمه توګه هنداره وي او د ده په ټولو دیني او دنیوي معاملاتو کې دغه صفت ښکاره وي.
٨. په مقاماتو د دین کې صدق: په اعمالو کې دا هغه اوچته درجه ده، چې په دې کې د الله تعالی سره د انسان د خوف، زهد او تقوی، رضا او توکل تړاو وي د داسې حقیقت او صداقت په رڼا کې ترسره شي، چې د ریا، بل ته ښودنه او ځان ښوونې ته په کې بیخي داخل نه وي.

له همدې امله څوک، چې د صدق په دې مراتبو متصف وي؛ نو هغه ته صدیق ویلی شي او څوک، چې په دې مراتبو کې په یوه مرتبه او یا زیاتو متصف وي؛ نو ده ته د دې مرتبې سره وړ صادق او رښتینی ویل کېږي.

په راتلونکې ګڼه کې کړې ژمنې ارسره کول...